مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اربنزی

۲۰۲۵/۱۰/۰۴

# د سره اور کرونده

د هغه د ناروغۍ په هکله مې ډېرې خبرې اورېدلې وې. ډېر ځوان و او داسې ښکارېده چې دنګه ونه یې، د پرله پسې او ناڅاپي پېښو په لمبو کې سوزېدلې ده.
دا ځوان ټېټي یې لنډه موده مخکې له ګڼ شمېر نورو ټېپانو سره یو ځای، له یوې لیرې سیمې څخه روغتون ته راوړی و.
دې ټېپي او نورو ټېپانو ډېر توپیر درلود. نور به کرار پراته وو؛ خو ده لیونتوب هم کاوه. څو ځلې یې روغتون په چیغو ډک کړی و او په وار- وار یې له خپل کټ او خپلې کوټې څخه بهر ته، دهلیزونو ته ټوپ کړی وو.
نن هم پوره ناکراره و. ټولو ویل چې ده خپلې ټولې جامې څیرلې وې او همدا چیغې یې وهلې:
- ما ووژنئ... زه یو قاتل یم!
هغه وخت چې ډله ډاکټران د ده سرته ودرېدل، یوه ټېپي بل ته وویل:
- اوس نو پوره لیونی شوی دی، څو روځې مخکې لا ښه و...
هغه بل سر وخوځاوه او ځواب یې ورکړ:
- هو... دی په ډېره ځوانۍ کې لیونی شو...
د څانګې مشر پوښتنه وکړه:
-... نو تاسو ځان د ده په تداوۍ کې نا کام بولئ؟
د څانګې سپین سرې ډاکټر ځواب ورکړ:
- موږه ډېره هڅه وکړه؛ خو د ده رنځ ډېر دی. دی موږ ته هېڅ نه وایي... یا پټه خوله پروت وي او یا په واز کومې په دهلیزونو کې چیغې وهي او همدا وایي چې:
- زه یو قاتل یم ... ما ووژنئ!
او وې ویل:
- موږ په دې روغتون کې د ده په شان ډېر ناروغان لرو، ټول ټېپیان دي؛ خو دی...
د څانګې مشر ما ته چې د ده څنګ ته ولاړ وم مخ راواړوه. ما د سر په خوځولو د مشر ډاکټر خبرې تایید کړې او و مې ویل:
- داسې ښکاري چې ناروغ د درد په زورورو منګولو کې ایسار دی. دا ټېونه یې رغیږي؛ خو دی داسې پټ دردونه لري چې موږ نه پرې پوهېږو . فکر کوم زموږ هڅې به بریالی نه شي...
نور نو زما حوصله پای ته ورسېده. د څانګې له مشر نه مې رخصت واخیست او له کوټې څخه ووتم .
بهر زما په سترګو کې د یوه ځوان ټېپي څیره انځورېده، چې د سر ببر ویښتان یې لور په لور شیندل شوي، سترګې یې د وینو د جامونو په څیر سرې دي، په سپېرو شونډو یې وینې وچې شوې، پرله پسې ژاړي او چیغې وهي:
- زه یو قاتل یم ... ما ووژنئ... زه یو قاتل یم!
***
کله چې بیا د روغتون د پنځم پوړ لومړی کوټې ته ننوتم، کټل مې چې کوټه بیا په ناروغانو او ډاکټرانو ډکه ده. ځوان ټېپي د یوې لویې ډلې په مینځ کې په ګونډو ناست دی او په لیو- لیو ژاړي. داسې ښکارېده چې نور نو په ډېرو چیغو ستومانه شوی او پرله پسې یې دا جملې تکرارولې:
- ما و ... و... ژنئ... زه... یو قاتل ...یم م م.
کله مو چې په بستره وغځاوه او ګڼه ګونه کمه شوه زه ورنژدې شوم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ناروغ پوښتنه وکړه:
- ته څوك يې؟
ما په خوشالۍ ځواب ورکړ:
- زه ستا نوی معالج ډاکتر یم اوستا د مرستې له پاره راغلی يم.
ده ورو وويل :
- مرسته !؟
ما ژر ځواب وکړ:
- هو... هو مرسته.
ده خپلې سترګې پټې کړې او ورو يې وويل:
- زه مرګ ته اړ یم! دا مرسته راسره کولی شې؟
او په داسې حال کې چې مخ يې بل لورته ګرزاوه وويل:
- زه ... يو... قاتل ...يم ...م م . ما ... ووژنه. دا... تر...ټولو ...ستره ...مر...مرسته ...ده!
***
د سپين ږيري ټيپ خبرې کيسو ته ورته وې. يوازې په غوږونو نه ننوتې، ان د زړه مراندې يې خوځولې او د ماغزو په سلول- سلول ننوتې ؛ ځکه نو ښه ورته ځيرشوم او غوږونه مې ورته څك کړل:
(ښکلی کلی په شنو ونو پوښلی و او پراخه ورشوګانې يې مخې ته غوړيدلې وې. موږ به هر سهار د اوبو د مستو ځپو په شنهار کې، د کار په لور خوځيدو او په خوښيو کې به مو مستې- مستې نجونې او ځوانان اوښتل رااوښتل.
خو ناڅاپه په خانيو سره ورانه شوه. خانانو يو بل ته سترګې برګې او بريتونه تاو کړل. دوی خپلې ډلې سمبال کړې او نا څاپه په کلي تندر پريووت.
په کلي ناپايه ناروغي خوره شوه. کلی په دوو ډلو وويشل شو. په يوه کور کې کورګی جوړ شول. شنه کښتونه وسول او په سلګونه ورخونه په سنګرونو بدل شول.
ورور د ورور دښمن شو او هره خوا د سرو لمبو تخمونه وکرل شول. ورو- ورو په کلي د ننه تور پوړنی او تر کلي بهر د سرو جنډو کرونډې ډېرېدې).
سپين ږيري ټيپ موږ ته ځير شو او خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ:
- (د مرګ او ژوند په دې لوبه کې ډيرې څېرې زما تر سترګو کيږي. ډېرو کسان زما ذهن ته راځي. ځينې ښه روښانه ښکاري او ځينې د بريښنا د يوه پړك په څېر بليږي او بيا ورکيږي...

په دې څېرو کې زما د خواره ملګري، د کلي د ځوان ښوونکي مراد څيره ډېره هسکه ځليږي اوهېڅ مې نه هېرېږي ... ما د هغه د ژوند داسې شيبې ولېدې، چې هيڅا ان ده په خپله هم نه دی ليدلی. لنډې؛ خو عجيبې شيبې! نه هيرېدونکې او له ما سره تل پاييدونکې شيبې.)
سپين ږيري ليرې وکتل او لکه له ځانه سره چې خبرې کوي، ورو-ورو وويل:

(په کلي او ورشوګانو باندې د اور باران پريوتی و، لکه په هر لوری چې سرې لمبې کرل شوې او سيمه په ډزو او لوګيو ډکه وه. د ځنګل ونې پرله پسې نړېدې او د زلمو دنګې ځوانۍ خاورې کېدې... په نريو- نريو لارو باندې خلك لالهانده بهيدل او له نړيدلو ودانيو څخه دوړې او خاورې پورته کېدې...
ماښام مهال و؛ خو سترګو لا څار کولای شوای. مخامخ لمر لويدو د اسمان په لمنو اور لګولی و او دلته د اور خورې- ورې لمبې د ماښامني باد له څپو سره لور په لور خوځيدې .
له ليرې ډزې اورېدل کېدې. د کلي ساه په ټپه درېدلې وه او لمنې يې په وينو سرې وې...
زه لږ وخوځېدم او ځان مې تګ ته چمتو کړ. په ستونزو پاڅيدم او کوږ کيږ روان شوم. هره خوا ځوانې لښتې پرتې وې او سپږمې مې لوګيو تريوولې. کمزوی زګيروی مې تر غوږه شو:
- ا ...ا...اخ...
ناڅاپه مې ځوان ښوونکي مراد وليد چې لويږي او پاڅيږي او تروره- تروره ځغلي.
لکه چې په دې مخامخ دوړو کې د ده کور و. ما هلته څه شي نه ليدل. شنې لوخړې پورته کېدې او د اور يوې نيمې سرې لمبې به هغه ځای لږ روښانه کړ.
داسې ښکارېده چې ده خپل کور ته دانګل اوغوڅې- غوڅې نارې يې وهلې.
- نوا...به ...اجم... مله ...
نور نو په ما کې هم د تګ وس نه و پاتې. ودرېدم او د ده په ننداره بوخت شوم.
دی د خاورو يوه ځلې ته وخوت. په بېړه - بېړه يې شا او خوا وکتل او په منګولو يې په خاورو برېد وکړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لکه چې ده خپل کور پېژندلی و. ما هېڅ مرسته نه شوای کولای، د درېدلو وس مې نه درلود، د اور لمبو زما سیوری دومره اوږد کړی و چې کله - کله به ان د مراد تر پښو پورې رسېده.
ده لا هم چیغې وهلې:
- اجمله... اجمله زویه ... نو ... نوابه زویه.
تر پښو لاندې یې د خاورو له کوټې څخه لا هم دوړې پورته کېدې او ده همغسې په منګولو خاورې ببېرته کولې.
زه لا هم د ده په ننداره بوخت وم. ځان را نه هیر شوی او جامې مې ورو - ورو په وینو سرې کېدې. ډېره مې سوزېده او له خوځېدو پاتې کېدم.
ما ته داسې وبرېښېده چې په سلګونو تنو د خاورو په غونډیو ګونډې وهلې او په خاورو خپرې لګوې.
غوږونه مې په دې چیغو ډک شوي وو.
- مرسته !!...
خو په دې چیغو کې دا لنډې چیغې، د مراد چیغې پوره پېژندل کېدې:
- نوابه زویه... اجمله زویه...
او چې کتل مې ناڅاپه مې له لیرې یو ښځینه غږ هم تر غوږه شو.
-چېرې دې؟... ودې موندل؟ ژوندي دي؟ خو کله یې چې د مراد تشو لاسونو ته وکتل دې هم چیغې کړې:
- نوابه ... اجمله ...
دا هم د مراد څنګ ته کیناسته او په منګولو یې خاورې ببېرته کولې.
باد د ښځې وېښته لور په لور شیندل، جامې یې سوزیدلې ښکارېدې او د اور لمبې نیغې د دې په لور الوتې.
دا وخت دا چیغې په ګډه اورېدل کیدې:
- نوابه... اجمله...
زما ډېره لا هم سوزیده او جامې مې په وینو نورې هم لمدیدې. په ډېر زور څو ګامه وړاندې ورغلم. زما سیوری د اور د لمبو په رڼا کې د دوی په مخکې په خوځېدو شو.
نا څاپه مراد پاڅېده. په ببېړه - ببېړه یې شا او خوا وکتل او له خاورو څخه یې توپ کړل. څو ځلې ولوید او پاڅېد او لالهانده یې شا اوخوا وکتل، ښځه همغسې د خاورو په شوکولو بوخته وه او په دې کار کې یې ډېره ببېړه کوله.
څو شیبې لا نه وې تېرې چې مراد ببېرته راغبرګ شو، لکه چې کوم بیل یې راوړی و... ښه ورته ځیر شوم، بېل نه ټوپک و! زه هك اریان ولاړ وم او نه پوهېدم چې معلم په دې ټوپك څه کول غواړي؟ څوك پرې وژني؟
زه لا همغسې په سوچونو کې لاهو وم چې مراد په خپله ښځه برېد وکړ. هغه یې تر ویښتو ونیوه او کش یې کړه. بیوسه ښځه پرمخې پریوته او نه پوهېده چې ولې له داسې صحنې سره مخامخ شوې ده؟
- ته نور نو د ژوند لیاقت نه لرې... بې زویه مور... بې زامنو مور... بې کوره ښځه... ژوند څه کوې؟
او بې له ځنډه د ټوپك څو ډزې وشوې. ښځه د یوې کوترې په څېر څو ځلې پورته شوه او ولویده اوبېوسه پریوته
.
د ټوپك ډزې په ماخستني تیاره کې ژر ورکې شوې. دې ډزو د ښځې غږ چوپ کړ او نور؛ نو ما هغه ښځینه غږ وانه ورېد چې څو شیبې مخکې یې زما غوږونه ډك کړي وو.
- زما ښکلو بچیانو... نوابه ... اجمله ...
لږ ځنډ وروسته مراد د اور په لور ودانګل. ټوپك یې ګزار کړ او چیغې یې کړې:
- اوس نو زه هم یو قاتل شوم...
بیا یې منډه واخیسته او د تیارې او لمبو په ځنګل کې ورك شو).
سپین ږیري تپې بیا وویل چې ما لا هم چیغې اورېدې:
- ( زه یو قاتل یم... ما ووژني... زه یو قاتل یم ... ما ووژنئ...)
***
د سپین ږیري تپې کیسې لا دوام درلود چې ناڅاپه د څنګ په کوټه کې بیا غوغا جوړه شوه :
- زه یو قاتل یم ... ما ووژنئ... زه یو قاتل یم.. ما ووژنئ!

پای
۱۳۶۷/۴/۱۶
باغبالامېنه، کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ